# طالب نامه

---------------------------------------

## ملا،شیخ اوطالب

ملا ، شیخ او طا لب د حورو په انتظا ر
ډاریږی د پیغلو د صورت له سینګار
هغوی لري کمی چي له ښځو ډاریږي
کتی ښکلو ته نشي له یوسره دي بیمار
د د ین ټیکه داران بی لاری بربران
بی مور او بی پلار محرم له مهریار
مسجد کی لوی شوی له مینی محروم شوی
غټ خیټی ببرږیري له سره نا بکار
قران یی تر تخرګ معنی یی نه پوهیږي
په غیب ایمان راوړي ګمرا اوبد کار
خد مت مو اسلام ته د خلکو بد مرغی دي
ما«مل» تاسی ولید بی علم او بی روزګار

****** جرمنی 2023-01-16

## بیا همغه ملا طالب

د ملا ، طا لب په دم هیڅ تولنه نه جوړیږي
دوی پخپله وران کاردی په پخپل کړنه نه پوهیږي
دوی دداسی دین پیرو دی چي منبع د ګمراهی دی
هغه آین چي رهبران یی له علمی بحثو ډاریږي
دوی دحور اود غلما ن په انتظا ر ښځي رټی
چِي دافغا ن ښکلي پیغلي له آزادی محرومیږي
له هغه ورځ چي طالب واک په زور قبضه کړي
بیا د علم هیڅ ډیوه په وطن کی نه ځلیږي

دوی تول خپله پیروان ګمراهي خواته کاږي
له یو سره سپک سر له وجدان خپل نه شرمیږي
رټ رټ ګوری انسا نا ن ته لکه وږی سوالګر
د خیرات په حلواګا نوهیڅکله دوی نه مړیږي
د ثروت اود پا نګوالوپه چوپړکی را ښکیل دي
د تولید په روند کي درما نده او لټیږی
دوی د علم او تحنیک له پیشرفته په ډار دي
ځکه دا چي د هغوی دالها م منبع وچیږی
«مل» ملا ، طا لب اوشیخ دتولني پرازیت دي
دوی هیڅکله دانسا ن په خیر نه ا هلی کیږي
********
جرمنی 16-01-2023

## بربره

لعنت دي په ذات اوپه ختګه شي بر بره
پرتا کرغیړن سپک سر بی حرمت ځناوره
دا ته چي نن ښځی تول په کور حصاروي
دا فتوا که ستا له د ین وي ګمراهی دی کچره
د تیری د دوری دا قانون نن نه چلیږي
پیری یو ویشتم دی ځا ن که پوه ناخبره
ما ستا په شا ن لاتراوسه بل احمق لیدلي نه دي
چي د ملک د هوسا ینی په مخ خنډ یي بی پدره
هیڅکله کوږ با ر نه رسیږی تر هد ف او مزل
سرخلاص په دی متل که د پنجاب دزړګي سره
ته هیڅ پښتون نه یی پنجابی مور زیږولي
چي تا دآی اس آی په خوله وران کړهرجونګړه
ستا دلاسه په وطن کی افغانان له ژوند بیزار دي

دغه تول بد مرغي ستا دلاسه دي خیره سره
په ریښتیا چي ته یو لوی ځناور او شریر یې
ځکه ته هیڅ نه پوهیږی نه په نظم نه په هنره
خلک د تیږی د دوری تر قانون اوسیدای نشي
سر د ستا هم نه خلاصیږی له خپل ځانه مروره
******
جرمنی «17-01-2023»

## له علمه بی خبره

هغو چي آ ین ته علم وایی له پوهه بی خبردي
طالب ، شیخ اوملا سپک سر کوڼ او کر دي
دوی بی پلار او بی مورد ښمن د ښځواو انجنو
دوی د قتل اود قتا ل د جلادو په سنګر دي
ترهغه چي وی دروغ دوی ریښتیا نه وایی هیڅ
د دوی هره کړنه ډیر له بد وهم بدتر دي
دوی دعلم اود هنر ښکاره د ښمنا ن دي
له یو سره تول جاهل هم شریر اومحجر دی
دوی هغه ږیره ور ځناور ګمراهان دي
چي افغانان تری په عذاب هم د لته اوپه بهردي
قران منی لارښود خوپه معنی یی نه پوهیږي
دوی غیبی باورمندان د ی له اثبا ته مرور دی
ګوره (مل) چي احمق هیڅکله نه درمل کیږي
دبت خاک د خر لکی له سرلنډ تر اخر دي
****
جرمنی 18-01-2023

## نا لیدلی باورمند

دین چي خپله یو ابزار د جاهل ملا په لاس دي
دهغي د پیروانو په ذهنونو کي واسواس دي

هرملا ، طالب او شيخ بيګا نه له علم وفن
مدرسوکی روزل شوی منزوی له عوام الناس دی
نالیدلي باورمند پر هغه چی لا مضمر دي
استدلال او شاه نزول د ملا ټول په قیاس دي
د تولید په روند کي ملا لټ او بیکاره دي
فردیت خپل ښودای نشي پرازیت اوخناس دي
د هیڅ شي د هستي په جذ رونو نه پوهیږي
ها چي دوی څه لوستلی بی بنسټ اوبی اساس دی
د جنت د نعمتونو د خیالي لذ ت قصی کړي
خلک غلط لاری ته بیایی بی خبراوبی احساس دي
له ډیر کذ ب اودروغ ځای په خلک کي نه لري
عام اوخاص ټول بیزار(مل) دهمدو له تما س دي

****

جرمنی 2023-01-20

دځنګل قانون

شریعت د طالب لوڅ قانون دګڼ ځنګل دي
نه لري علمی اسا س ټول احکام یی په اټکل دي
واک اواختیار دهری ښځی سپارلي دی محرم ته
بی محرم چیری تلي نشي هریوښځوته معضل دي
یوه نر لري جواز چي څلور ښځی نکاح کړي
دا پخپله غټ تبعیض جوړپه ښځوسخت غوبل دي
د یوه ښځی شاهدی قاضی نه منی شریعت کي
دا پخپله ښکاره بی بنسټه یو اندول دي
هیڅ یو پیغله پخپل خوښه هم بستر تاکلي نشي
دا د دوی د شریعت فتوا څومره ډیر مجمل دي
د شریعت هیڅ یو حکم په دلیل ولاړ نه دي
د شریعت ټول حکمونه بی پا یه او مجمل دي

اوس هرچا ته  معلوم شو چی  طالب«مل» ناپوه دي
چی دهغی دشریعت ټول احکام ډیرپیچلي اومهمل دي

*******

جرمنی 20-01-2023